# د سولې سفر

## لومړۍ کیسه

دوهم چاپ



# دجمیلې سوغات


**لیکونکي:**

**ماری-جو لند**
**داکتر جوانا سنتا باربارا**
**داکتر گرایم مک کوین**
**کیون آرتر لند**

**دیزاین: یار محمد تره کي**
**انځورکونکئ : یارمحمد تره کي**

***ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل***



**موسسه کمک به اطفال افغانستان**
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**كيسې او د ښوونكي لارښود په لاندې ويب سايټونو كې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کیسی کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

**لومړۍ کیسه**

**دوهم چاپ**

# دجمیلې سوغات

لیکونکي:

ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي
انځورکونکۍ : یارمحمد تره کي

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر گرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرل

## په کیسه کې ښکیل کسان :

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کاکا**: دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراو د یونس کاکا ځوانه کونده

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یو کلي کې ژوند کوي . هغوی دهیواد په کورني اخ وډب کې دمخه هم ډیر کړاوونه او دژوندستونزې لیدلې وې او هغه ئې لا له هیره نه وې وتلې چې یوه بله غمجنه پېښه رامنځ ته شوه . دجمیلې تره، یونس کاکا، چې په خپله کرونده کې کار کاوو، دیومایِن دچاودېدو له امله مړشو اوپلار ئې، میرزا، خپله پښه له لاسه ورکړه . دجمیلې دسوغات په کېسه کې ، جمیله اودهغې کوچنۍ ورور کوښښ کوي چې وپوهېږي ، ولې ددوی مشر ورور تل په قهر وي اوځان گوښۍ نیسي .هغوی دخپلې انا ، بي بي جان ، په لاربښوونه په دې ځان پوهوي چې څرنگه عبدالله سره مرسته وکړي ترڅودئ دکاکا یونس مړینه ، چې دهغه ډېر نږدې ملگری وو، له هیره وباسي .

**ددرملنې عنصرونه :**

تصویرونه او روغتیا ښنونکی نښې: ترانه ویل ، وده اوپالنه ، ښکلا ، شوخې ، لوبې ، خندل ، مینه ، ملگرتیا ، ښې خاطرې او خوند اخیستل

**د سوله ایزه کړو لپاره لاربښوونې :**

مرسته ، دینداري ، عاطفه ، صنعت ، بخشش ، عفوه ، دزړونو ورته والی ، دښوکارونو ستایل ، غوږ نیول ، غبرگون اوداحساساتو منل ، ساتنه ، درک او پوهاوی او درس ورکول

**ستونزې :**

گوښې والی ، دتحصیل هیله ، دموراوپلاراختلاف ، زړه تنگوالی ، بدني اورواني زیان ، غصه ، تاوان او تریخوالی ، بدني معلولیتونه اودسپکاوي احساس

**ددرملنې لارې:**

باغواني ، ترانه ویل ، لوبې ، دعاکول ، ورکړه ، دښکلا ستاینه ، دنورولپاره خدمت ، دزړونو ورته والی ، مشوره ، مړوته درناوی اوپه ښوخاطراتو تمرکز



# دجميلې سوغات

جميله په باغ کې ناسته وه اوبدلې ئې ويلې. هغې مينه درلوده چې دګلانو اوبوټوترڅنګ کيني اوددوی دودې اوښکلا په اړه هغوته خوږې خوږې ترانې ووايي. جميله دخپل کوچني ورور ، احمد ، راتلو ته ددي لپاره سترګې په لاروه چې هغه له جومات څخه راوګرځي ؛ په ګډه سره باغ اوبه کړي او دهغه څه په باره کې چې احمدپه جومات کې زده کړي دي له هغه څخه پوښتنې وکړې. جميله ښوونځي پسې خپه شوې وه . کله به چې احمد ښوونځي ته لاړو؛ هغه به په کورکې يواځې پاتې کيدله. دجميلې پام نه و چې احمد ئې غلی غلی شاته راغئ اوپرې " بو " ئې کړ. جميلې ټوپ کړ اوچيغه يې کړه: " احمد ! داکارمه کوه ، تازه وويرولم . "

احمد ځواب ورکړ: " اوه ، جميلې ما تاسره ټوکه وکړه چې ودې وېروم" .



جمیلې داحمد دسر په ویښتانو لاس راکش کړ وئې ویل: " زه ستا راتلو ته سترګې په لاره وم ؛ راځه چه باغ اوبه کړو؛ که دا کارپه ګډه سرته ورسوو زمونږ وخت به ډېرښه تېرشي. " اوبیائې پوښتنه وکړه: " احمد ! نن دې جومات کې څه زده کړل ؟ "احمد له ځنډه پرته ځواب ورکړ:

"جمیلې ته ولې له ماڅخه تل داپوښتنه کوي؟ "

جمیلې په داسې حال کې چې داوبو سطل ئې ډک کاوه وویل: " زه خپل ښوونځي پسې، له هغه وخت راهیسې چې تړل شویدئ ، ډېره خپه یم ، ځکه زه نشم کولئ چې داډیروخت خپل دوستان ووینم . "

احمد په مسکا وویل: " خوته په کورکې یې اوباغ ته ځې اوبیتونه وائې ! " که ته ماته یوه سندره ووائې بیا به زه هم درته ووایم چې ما په جومات کې څه وکړل . "



" لومړی به اوبه ولګوو ، بیا به سره لوبې وکړو . " جمیلې اواحمد دسطل اوبه په ناوه کې واړولې اودهغې کوچنی ویالې ، چه دباغ لورته په کې اوبه بهېدلې ننداره وکړه .
ناڅاپه ددوی دپلار له قهرنه ډک غږ ددوی ترغوږ شو اودواړوته یې سخت ټکان ورکړ . هغه ددوی په مورچیغې وهلې . جمیلې او احمد ددې لپاره چه غږښه واوري دباغ خړوبول بس کړل . دوي یواوبل ته په ډېرې خواښینی وکتل . احمد په ورو جمیلې ته وویل : " پلارډېرې چیغې وهي ، ته څه فکرکوي ایا پښه به یې خوږېږي ؟ "
جمیلې ځواب ورکړ : " پلارله همغه ویرجنې ورځې راهیسې، چې ماین پرې چاودېدلی دئ ، ډېر قهرجن اوغمجن ښکاري . بې بې جان وایي اوس ډېروخت ته اړتیا ده چې هغه یوځل بیا خوشحال شي . بي بي جان داهم وایي که کله پلارپه مونږ غالمغال وکړي مونږ باید دهغه پدې کړو نه زورېږو . مونږ دابايد په یاد ولرو چې پلاردیونس کا کا دمړینې له کبله غم اخیستی دئ . زه سوچ کوم پلارله دې کبله ، چې مجبوردئ له یو ځای نه بل ځای ته دتللوپه وخت کې دتخرګوله چکسو څخه کارواخلې هم عصباني کېږي . بي بي جان داهم وایي چې پلاردبزګری کارونو پسې ، چې اوس ئي نشي کولی ، هم خپه شویدئ ؛ پلارله دې امله هم زورېږی چې ټول وخت وزګاردئ خوهیڅ کارکول یي په وس کې نشته ؛ کاشکې پلار وتوانېږي چې بیا کاروکولی شي ؛ زه فکر کوم چې پلاربه ښائي یواځې هغه وخت ، چې دی په کاربوخت شي ، خوشحاله شي . "
احمد په خواښینی سره وویل : " زه هغوورځوپسې ډېرخپه شوئ یم چې پلاربه ماته کیسې کولې ؛ زه به ئې ځان سره یوځای جومات ته بولم . هغه به ماته په لارکې هره ورځ دحضرت محمد ص او دهغه د یارانو په هکله کیسې ویلې . "



جميلې وويل: " مونږ به له پلارڅخه وغواړو، کله چې باغ خړوبوو ، مونږ ته دې کېسې ووائي .

کوچنيانو اوبولګولوته دوام ورکړ اوپه کورکې چوپه چوپتيا خپره وه .



جميلې وويل: " راځه چې په ټولو کې ښه رومي بانجان وموماودشپې دډوډۍ لپاره يې مورته يوسو. جميلې تل مينه درلوده چې دباغ تحفه خپلې کورنۍ ته ورووړي .

دا صفحه سپینه ده

هغه وخت چې دوی په باغ کې رومیان لټول ، ددوی مشر ورور، عبدالله له پټي څخه راوګرځید . هغه چې په ځوړند سر اوپریشانه سوچونو کې ډوب په لارروان ووکوچنیانو ته یې پام نه شو. احمد دباغ له منځه ورمنډه کړه اوپه ډیره خوښۍ یې پرې غږ کړ : " عبدالله ! عبدالله دې ښکلې رومي بانجان ته وګوره ، داموږ کرلي وو. ما ددوی په کرلو او روزلو کې مرسته کړېده ! ایا ستاهم دا بانجان خوښیږي ؟ "

عبدالله چې په بیړه یې ګامونه اخیستل ځواب ورکړ : " احمد! داډول ټوپونه مه وهه اوڅوک مه وېروه . ستاداکارماډیر په غصه کوي . زه ستادرومي بادنجان په کېسه کې نه یم !ځنې وختونه ته له ځانه یو بداخلاقه هلک جوړکړې .

داحمد سترګې له اوښکو نه ډکې شوې اوپه ژړاغوني آواز ئې وویل : " عبدالله ! له تانه ښنه غواړم مانه غوښتل چې تا وویروم . "

جمیلې خپل وړوکی ورور غیږ کې ونیو ویې ویل : " احمد ! مه خواښینی کیږه ، عبدالله ډیر قهرجن دئ اوبیایي عبدالله ته وویل : " عبدالله ! ته باید له دې کبله چې خپله غمجن یې احمد ونه ژړوي او ویې نه زوروې . "

عبدالله جمیلې ته دنصیحت په توګه وویل : " جمیلې ! له رومي بادنجان څخه ډیر نورمهم شیان شته چې زه دهغو په اړه اندیښنه لرم . " بیا له هغه ځای څخه په چټکۍ سره ولاړ.





جمیلې په ډېره هیله عبدالله ته غږ کړ ویې ویل: " ښه عبدالله ، ته بیا وروسته کولی شې چې مونږ سره په لوست کې مرسته وکړې ؟ زه په لیکلو کې ستا مرستې ته اړتیا لرم . "

عبد الله په قهر ځواب ورکړ : " جمیلې زه ستادرسونوته وخت نه لرم . حتی خپل ځان ته وخت نلرم . زه اوس مجبوریم پرخپل کاربرسیره، هغه ټول کارونه چې پلار اویونس کاکاپه کرونده کې کول، په یواځې توګه ترسره کړم . زه له هغوڅارویو څخه چې هغوسره په کرونده کې کارکوم کرکه لرم . " دایې وویل او له قهرسره یې خپل تګ ته دوام ورکړ .



جمیلې اواحمد په ډېرې خواښینی ورور پسې کتل . جمیلې وویل : "هغه پخواهره ورځ ماته لوستل اولیکل راښودل. "

احمد آه وویسته اوویې ویل : " هغه له ما اویونس کاکا سره توپ بازي کوله . ښائي بې بې جان وپوهیږي چې اوس مونږ ولې دعبدلله نه خوښیږو. "



جميلې وويل" احمد ، مونږ اوس هم په عبدالله ګران يو . مګر بي بې جان ښائي وپوهيږي چې دهغه په کړو کې ولې دا بدلون راغلئ دئ . عبدالله اوس هغه څوک نه دئ چې دماين له چاوديدو څخه پخوا و. " جميله او احمد د بې بې جان خوا ته ورغلل . هغه ديوې ونې لاندې سيوري ته ناسته وه اوجميلې ته ئې جاکت اوبده .



دجمیلې هیرشوې و چې دڅه لپاره بي بي جان ته راغلې ده ، خو په خوشحالۍ ئې پوښتنه وکړه : " بي بي ، زما جاکت اوبدل دې خلاص کړې دې؟"

بي بي جان ځواب ورکړ : " هوګرانې ، ته به ډېر ژرداجاکت واغوندې . "

بي بي جان ډېر آرام ، خوږ او نرم آواز درلود . هغه د کلي د ټولو خلکو په منځ کې په هوښیارۍ او مهربانۍ مشهوره وه.

بي بي جان وویل: " داڅومره پوخ او تک سور رومي بانجان دی . دې رومي بانجان به ستاله بدلو ویلو څخه ډېر خوند اخستي وي ځکه خو دومره ښه غټ شوی او پوخ شوی دی . احمد ! تا هم تل زما خبره منلې او په اوبو لګولو کې دې مرسته کړېده . په باغ سا تلو کې ستامرسته په حقیقت کې له خپلې کورنۍ سره مرسته ده . "

جمیلې وویل: " بي بي جاني مونږ ددې لپاره راغلي یو ترڅو له تانه پوښتنه وکړو چې عبدالله ولي نه غواړي له مونږ سره په درس کې مرسته وکړي ، هغه تل په قهروي او له مونږ څخه ځان لري ساتي . "

احمد په ژړه غوني آواز وویل:" هو ، هغه نه غواړي چې له ماسره په توپ بازی وکړي . "

بي بي جاني جاکت په فرش کیښود ، هغې دخپلو لمسیانو څیرې ته وکتل او ویې ویل : " زه پوهیږم تاسو له دې کبله چې ومونشو کړای په دې څوورستنیو میاشتو کې له خپل مشر ورور عبدالله سره درس ووایی او له هغه سره لوبې وکړئ خوابنیني یاست . له دې څخه ښکاري چې هغه پرتاسو ډیر ګران دئ او تاسو هغو تیرو ورځو پسې چې مونږ په ګډه له هغو څخه ډیر خوند اخیستي وو خپه شوي یاست .

مونږ باید کوښښ وکړو چې له لاسه وتلې خوښي بیرته لاس ته راوړو، ایاپوهیږی تاسو باید څه کار وکړئ چې عبدالله د پخوا پشان بیرته خوشحاله شي .

احمد په حیرانتیا سره وویل : " عبدالله ولي خوشحالي له لاسه ورکړیده ؟ کله چې له ما څخه توپ ورک شي زه هغه له بوټو لاندې او یا په بڼ کې پیدا کوم . ایا د عبدالله خوشحالي به هم هلته ورکه شوي وي ؟ "





بي بي جان په زوره وخندل او خپل لمسيان يي په غيږ کې ونيول ويي ويل : " احمد ، ته شايد چې رښتيا ووايي ! جميلې ! که ته يو گل د عبدالله د کتابونو ترڅنگ کيږدي ددې گل په ليدلو به دهغه پام ستا دوستۍ او د توانا خداي (ج) د مخلوقاتو ښکلا ته راواوړي .

همدارنگه ته او عبدالله د گلانو يوه گيډۍ جوړه کړئ او د يونس کاکا قبر ته يي يوسئ او هغه ته دعا وکړئ .

احمد! که ته خپل توپ دعبدالله لورته ور واچوې ، هغه ښايي چي ستاتوپ ونيسي او بيرته يي تاته در وارکړي .هغه ښايي وپوهيږي چي لوبې کول، ولو که د ډير لږ وخت لپاره هم وی، سړی خوشحاله ساتي . هغه به په دې ډول ددوهم ځل لپاره تاسره توپ بازي پيل کړی . "



جمیلې په ډیر هیجان سره د باغ لورته منډه کړه وئي ویل : " زه اوس له باغ څخه په ټولو کې ښکلي او ښایسته ګلان راوړم او له عبدالله څخه غواړم چي ماسره د یونس کاکا قبرته لاړشي . "

احمد غمجن او خواښیني ښکاریده ؛هغه خپل توپ اخوا دي خوا غورزولو .



بي بي جان احمد ته وویل : " ته داسي خواښینی بریښې لکه چي یو ډیر نږدي ملګری دې له لاسه ورکړی وي. "

احمد په چیغه وویل : " خو زه تراوسه عبدالله له لاسه نه یم ورکړی او دلته یم . "

بی بی جان خبروته دوام ورکړ: " هغه نور د یونس کاکا غوندې ملګری نه لرې هغه وخت چي عبدالله کوچنی و ، یونس او عبدالله جوړه په یو زاړه بایسکل باندي ښوونځي ته تلل . هغوی به یو بل سره ټوکې او خنداکوله .هغوي به یوبل سره یوځای په توپ لوبې کولې او په کرونده کي به ئي په ګډه کارکاوو. اوس عبدالله د یونس کاکا دمړینې له کبله ډیر زوربړي او هغه له دې کبله چي ملګرئ یي وژل شویدی دی ډیر غمجن دی .

احمد له ځایه په هیجان سره اوچت شو وئي ویل : " زه اوس پوهیږم چي په څه ډول د یونس کاکا غم دعبدالله له زړه څخه لرې کېدلی شي .

تاسو ماته ویلي وو کله چی یونس کاکا زما په زړه راوګرځی ، هغه وخت زه باید دهغه غږ، د هغه وینا اوهغه دخوښۍ نه ډک وختونه چې مونږ به سره یوځای ووپه یاد راولم اودهغه په اړه د ې له خوښۍ نه ډک خوبونه ووینم . بي بي داکار زه هر شپه کوم . زه هغه وختونه یادته راولم چې زه ، یونس کاکا او عبدالله به په بڼ کې دونو لاندې کښیناستو ، کیسې به مو ویلې ټوکې به مو کولې او خندا به مو کوله . عبدالله ته هم واېم چې هغه وختونه ياد ته راولي . "

بی بی جان په داسی حال کې چي د انګړ په لوري روانه وه خپل لمسی ته وویل: "هو احمد !دا ستا وس کې شته چې هغه سره مرسته وکړې تر څو هغه بیرته دپخوا په شان خوشحاله شي . "

*******